**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د تایوان پر سر د امریکا-چین لانجه
(ژباړه)

**پوښتنه:**

د تایوان په تړاو د امریکا-چین لانجې ترشا څه دي؟ د دې لانجې ترشا انګیزې څه دي؟ امریکا ولې تایوان ته د دې هېواد د استازو جرګې مشرې او کانګرس نورو غړو په سفر، چین راپاروي؟ د چین او امریکا لپاره د دې ټاپو ارزښت په څه کې دی؟ د دې موضوع په تړاو لانجه د جګړې او که د ارامۍ لور ته روانه ده؟

**ځواب:**

د دې لپاره چې د تایوان د مخ پر زیاتیدونکې لانجې، د هغې د انګیزو او پاړونو په تړاو وضاحت ورکړو، پر ځینو واقعیتونو پوهېدل مهم دي:

**لومړی:** امریکا په نړیواله کچه چین خپل لومړی درجه سیال ګڼي. د چین اقتصاد ډېر لوی او د امریکا په پرتله یې وده ډېره چټکه ده. د چین دا اقتصادي وده به په راتلونکو څو کلونو کې امریکا وګواښي. د چین دغه اقتصادي ځواک په نظامي هغه هم بدلیدونکی دی؛ د چین نظامي لګښت کال په کال زیاتیږي، د وریښمو لارې پروژې په ګډون زړې او هستوې وړتیاوې یې وده کوي، چې دغه چاره په یو شمېر هېوادونو، په ځانګړي ډول اسیا کې د چین سیاسي او اقتصادي نفوذ ته لاره هواروي. دا ټول امریکا ته د منلو وړ نه دي، نو د چین پر وړاندې یې سوداګریزه جګړه اعلان کړه او په اسیا کې یې د پوځي ایتلافونو په جوړولو پیل وکړ، چې د چین مخالفت وکړي او د پرمختګ مخه یې ونیسي.

**دوهم:** تایوان یو پراخ ټاپو دی چې ۳۶۰۰۰ کیلومتر مربع مساحت لري او نفوس یې ۲۴ میلیونه دی. تایوان د پرمختللي اقتصاد له امله په نړۍ کې ۲۶مه درجه اقتصادي دولت دی او د برېښنایي چیپونو د صنعت له مخې په نړۍ کې نوم لري. له همدې امله، د هېوادونو د ننني معیارونو له مخې تایوان یو بشپړ هېواد دی. خو تاریخ ته یې په کتو او دا چې خلک یې چینایان دي او له چین څخه یوازې ۱۴۰ کیلومتره واټن لري؛ چین د یوې باغي سیمې په سترګه ورته ګوري. د سیاسي تاریخ له مخې له چین سره د تایوان اړیکې یوه توده موضوع ده، ځکه وروسته تر هغه چې په ۱۹۴۹م کال کې کمونیستانو د چین واکې په لاس کې واخیستې او د چین ملتپالو واکمنانو (د چین ملي ګوند- کومینټګ) ماتې وخوړله، دا خلک تایوان ته وتښتېدل او هلته یې خپله واکمني جوړه کړه. دوه میلیونه چینایان د کمونېست ګوند د مخالفت له امله تایوان ته کډوال شول او تاییي یې خپله پلازمېنه وټاکله. په همدې توګه د چین ملتپالو واکمنانو (له کمونېستانو وړاندې) د تایوان ټاپو تر خپل حاکمیت لاندې راوست او له هغه وخت راهیسې امریکا پوځي مرستې ورسره کوي. امریکا په ۱۹۵۵م کې د چین جمهوریت تر نامه لاندې له تایوان سره ګډ دفاعي تړون لاسلیک کړ، ځکه امریکا هغه وخت د چین جمهوریت چې کمونېست ګوند پرې حاکم و، په رسمیت نه پېژاند. امریکا پرله پسې د تایوان د دفاع په موخه مداخله کړې او چین ته یې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې دایمي څوکۍ ورکړه.

**درېیم:** امریکا که څه هم له بیجېنګ سره تر تفاهم وروسته موافقه وکړه چې د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې دایمي څوکۍ دوی (د چین کمونېست ګوند) ته ورکړي او تایوان د ملګرو ملتونو له غړیتوب څخه بې

برخې کړي. له هغه وخت راهیسې امریکا د واحد چین سیاست تعقیبوي؛ یعنې د تایوان خپلواکي په رسمیت نه پیژني، خو دفاعي تړون یې د دې لپاره پرځای دی چې چین د تایوان له الحاق څخه منعه کړي. دې چارې امریکا د تایوان په موضوع کې له تېرو اویا کلونو راهیسې د یوه فعال عنصر په توګه ښکېل کړې. نن ورځ امریکا پرته له دې چې تایوان په رسمیت وپیژني، له دغه هېواد سره د یوه خپلواک دولت په توګه تعامل کوي؛ سیاسي، سوداګریزې، اقتصادي او نظامي اړیکې ورسره پالي او پر دې سربېره د امریکایي جنګي بېړیو په مټ ساتنه ترې کوي. امریکا په تایپې کې دفتر لري چې که څه هم د سفارت نوم یې نه دی ورکړی، خو د یوه رسمي سفارت چارې مخ ته وړي.

**څلورم:** له چین څخه د یوه جلا سیاسي بنسټ په توګه د تایوان په تاریخ کې وضعیت همداسې و. نن ورځ د چین ځواک خورا زیات شوی او په نړیوال ډګر کې یو وتلی دولت دی، دوی په اسیا کې، په ځانګړي ډول په اقتصادي برخه کې پام وړ نفوذ موندلی؛ خو د تایوان لانجه یې د یو باغي دولت په توګه نه ده حل کړې او دا یې یوه لویه کمزوري ده. چین په تېر او اوس کې د تایوان له نظامي ځواک څخه وېره لري او ډاډمن نه دی چې یاد ټاپو به د زور له لارې له ځان سره یوځای کړی شي؛ چین د تایوان پر سر له امریکا سره د جګړې د پېښېدو وېره لري. په اوسني کړکېچ کې امریکا د چین پر وړاندې سخت دریځ خپل کړی، چین په نړیواله کچه پر دې راضي دی چې د نړۍ هیوادونو د تایوان خپلواکي په رسمیت نه ده پېژندلې او د «واحد چین تګلاره» یې خپله کړې. پر دې ټولو سربېره، هغه هیوادونه چې امریکایي سیاست تعقیبوي، له تایوان سره د یوه خپلواک هېواد په توګه تعامل کوي. په ټوله کې، چین د تایوان شاوخوا د کړکېچ رامنځته کېدو مخه نیولې، ځکه دا کار له نړۍ سره د چین پر سوداګریزو اړیکو سیوری غوړوي.

**پنځم:** امریکا د تایوان په موضوع کې چین پاروي، سپکاوی یې کوي او کمزوري یې په ګوته کوي. که چین د امریکا د پاروونکو کړنو پر وړاندې غلی پاتې شي او که د ځان د دفاع په موخه اقدام وکړي؛ په دواړو حالتونو کې تایوان په یوه کړکېچ ورته بدلېږي او پکې ښکېلېږي. چین د پاڼ او پړانګ ترمنځ دی. دا هغه څه دي چې د تایوان د اوسني کړکېچ په تړاو بیان شول. امریکا له کوم قانع کوونکي دلیل پرته تایوان ته د امریکا د استازو جرګې د مشرې، نانسي پلوسي سفر اعلان کړ او د دې اعلان له مخې د سفر احتمالي نېټه ۲۰۲۲/۸/۳ وه. چین په غوسه شو او امریکا ته یې خبردار ورکړ چې که پلوسي تایوان ته لاړه، امریکا به یې بیه پرې کړي. بیجېنګ خبرداری ورکړ چې د تایوان په هوایي حریم کې د پرواز له بندیز څخه سرغړوونکې الوتکه ښایي وغورځول شي. (د الشروک ورځپاڼې وېبپاڼه، ۲۰۲۲/۸/۲) امریکا سره له دې هم خپلو پاروونکو کړنو ته زور ورکړ؛ پلوسي د امریکا په یوه پوځي الوتکه کې چې ۱۳ نورو پوځي الوتکو بدرګه کوله، په جاپان کې د امریکا له پوځي بېس څخه پرواز وکړ او د چین له خوا ورپېښېدونکي ګواښ ته یې هېڅ ارزښت ور نه کړ.

**شپږم:** چین د تایوان په تنګي کې پراخ پوځي مانورونه وکړل، توغندي یې وتوغول او له امریکا څخه یې د واحد چین د پالیسۍ د پیروۍ غوښتنه وکړه چې په ۱۹۷۱ کې یې هوکړه پرې کړې وه. د پلوسي تر سفر وروسته امریکا نورو پاروونکو کړنو ته مخه کړه. د امریکا د کانګرس یو بل غړی تایوان ته لاړ چې د تایوان د دفاع او د چین د ننګولو په موخه د امریکا ژمنتیا په ډاګه کړي. په تایپې کې د امریکا د انسټېټیوټ -چې د واشنګټن د سفارت په توګه کار کوي- د وینا له مخې؛ (یکشنبه، د اګسټ ۱۴مه، د امریکا له کانګرس څخه یو پلاوی تایوان ته را ورسېد). دا کار وروسته تر هغه ترسره شو، چې چین د امریکا د استازو جرګې د مشرې، نانسي پلوسي د سفر په غبرګون کې د تایوان شاوخوا پوځي مانورونه وکړل. (انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۲/۸/۱۴). چین د دې په ځواب کې د تایوان په تنګي کې نوي پوځي مانورونه وکړل او دغه راز امریکا اعلان وکړ چې سمندري او هوایي ځواکونو یې د تایوان په تنګي کې ترانزیتي عملیات ترسره کړل، څو په

دې توګه په دغه ځای کې د تګ راتګ ازادي تایید کړي. تایوان د دغو مانورونو پر غبرګون کې ظاهري شورماشور جوړ کړ او پوځي مانورونه یې وکړل چې د چین د برید پر وړاندې ظاهري غبرګون وښیي. له همدې امله د تایوان کړکیچ د امریکا او چین ترمنځ دی او په لاندې ډول یې خلاصه کولی شو:

۱- چین غوسه دی او د احتمالي جګړې لپاره ځان چمتو کوي. (د چین دفاع وزارت په یوه بېل بیان کې وویل چې د امریکایي پلاوو سفر د چین له حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه سرغړونه ده او دا «د تایوان په تنګي کې د سولې او ثبات له منځه وړونکي په توګه د امریکا اصلي څېره په ډاګه کوي.» هغې زیاته کړه چې، «د چین د خلکو د ازادۍ پوځ جګړې ته د چمتو کېدو په موخه خپلې روزنې ته دوام ورکوي؛ په غوڅ ډول له خپل ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ساتنه کوي او د تایوان د خپلواکۍ، بېلتون او بهرنۍ لاسوهنې هره بڼه به په غوڅ ډول وځپي.» (انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۲/۸/۱۶)).

۲- امریکا خپلو پاروونکو کړنو، له هېوادونو سره د ایتلافونو جوړولو او د چین پر ضد تودو احساساتو پارونې ته دوام ورکوي، (د امریکا د بحري ځواک یوه قوماندان، کارل توماس، سه شنبه، د اګست ۱۶مه په سنګاپور کې په یوه ناسته کې ټینګار وکړ چې د چین دا پرېکړه چې د تایوان پر سر توغندي توغوي؛ یو د نه منلو او بې مسوولیته کار دی. (انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۲/۸/۱۶)) نوموړي دغه راز د چین پر ضد اسیایي هېوادونه وپارول، د همدغې سرچینې په حواله، هغه زیاته کړه: «که تاسې چین ونه ننګوئ، دغه ستونزه به پر یو اصل بدله شي... خلک یې مني. ټول به دا یوه خبره کوي چې د سویلي چین سمندرګی په بشپړ ډول د چین اړوند دی». تر ده وړاندې، د امریکا ولسمشر په ډاګه ویلي و چې که چین برید وکړي، امریکا به د تایوان تر څنګ درېږي. د امریکا ولسمشر جو بایډن خبرداری ورکړ چې چین د تایوان په موضوع کې له اور سره لوبې کوي او ژمنه یې وکړه چې که چین برید وکړي، د د فاع په موخه به پوځي مداخله وکړي...، له هغه وپوښتل شول چې ایا امریکا به د چین د برید په صورت کې له پوځي اړخه د تایوان دفاع وکړي که نه؛ په داسې حال کې چې د اکراین په مسله کې داسې ونه شول؛ بایډن ځواب ورکړ: «هو... موږ دغه ژمنه کوو.» (بي بي سي، ۲۰۲۲/۵/۲۳). امریکا په تایوان کې د چین پر وړاندې بې شمېره پاروونکې کړنې کوي او چین د تایوان شاوخوا خپل پوځي ځواک ښیي او ګواښوونه کوي. امریکا خپلې جنګي بېړۍ او الوتکې د تایوان تنګي ته راولې او چین د خپل کور په دروازه کې ننګوي. دا کړکیچ خطرناک ګڼل کېږي چې امریکا حالات د لا کړکېچن کېدو لور ته بیایي. امریکا له کلونو راهیسې په اسیا کې له چین سره د احتمالي پوځي ښکېلتیا په موخه خپل ځواکونه بسیجوي. امریکا د چین پر ضد نوي پوځي ایتلافونه جوړوي، لکه؛ له استرالیا او بریتانیې سره درې اړخیز ایتلاف (AUKUS). دوی همدار از شته ایتلافونه پیاوړي کوي، لکه؛ له جاپان، هند او استرالیا سره څلور اړخیز ایتلاف (Quad). یعنې، امریکا د پوځي ګواښ تر څنګ له اقتصادي ګواښ څخه هم کار اخلي چې لومړی یې تر دوهم ډېر اغېزناک دی.

۳- داسې ښکاري چې چین پوهېږي چې دا اصلاً د تایوان موضوع نه ده، بلکې د امریکا د لویې پالیسۍ اړوند پلانونه دي چې په مټ یې چین مهاروي. ځکه خو چین خپلې پوځي وړتیاوې ښیي. د چین پوځ ختیځې قوماندانۍ په یوه اعلامیه کې ویلي: «د چین د خلکو د ازادۍ پوځ د اګست پر ۱۵مه د ګډو ځواکونو د چمتوالي په موخه یوه ګزمه ترسره کړه؛ دغه راز یې په سمندرګي کې مانورونه او د تایوان شاوخوا یې پوځي الوتنې وکړې.» (انډیپنډنټ عربي، ۲۰۲۲/۸/۱۴). د چین پوځ دغه راز نن وویل چې تایوان ته نږدې یې مانورونه ترسره کړي چې د دوی په خبره واشنګټن او تایپې ته جدي خبرداری دي، ځکه دوی د تایوان په تنګي کې د سولې او ثبات زیانمنولو په موخه خپلو سیاسي چلونو او نیرنګونو ته ادامه ورکوي. د چین پوځ د ختیځې قومندانۍ په وینا؛ د چین د خلکو د ازادۍ پوځ په سمندرګي کې د ډزو جګړهییز تمرینونه او د تایوان شاوخوا پوځي الوتنې ترسره کړې. په ورته وخت کې، د چین دفاع وزارت وویل چې ځواکونه یې د چمتوالي په

موخه روزنې ته دوام ورکوي، په کلکه د ملي حاکمیت دفاع کوي او د تایوان د خپلواکۍ هره بڼه او بهرنی هر ډول لاسوهنې به وځپي. دوی امریکا او په تایپي کې واکمن ډیموکراټ مترقي ګوند ته خبرداری ورکړ چې د چین د مهارولو په موخه تایوان د یوې وسیلې په توګه کارول له ناکامۍ پرته بل څه په لاس نه درکوي. (الجزیره نټ. ۲۰۲۲/۸/۱۵). همدا رنګه، په (۲۰۲۲/۸/۱۷) نېټه، چین خپل ځینې ځواکونه روسیې ته له روسي ځواکونو سره د ګډو تمرینونو ترسره کولو په موخه واستول، چې په دې ډول امریکا وګواښي او ویې پوهوي چې د تایوان په کړکېچ کې روسیه د چین پلوې ده.

**اووم:** امریکا د تایوان د کړکېچ د بېلابېلو اړخونه د رامنځته کېدو په مټ غواړي چین د ځان تابع کړي. د یادونې وړ ده چې په دې تړاو څلور مهم موضوعات دا دي:

۱- امریکا د چین له اقتصادي جګړې څخه ویره لري ځکه د چین اقتصاد ډېر ځواکمن دی. خو له پوځي اړخه امریکا تر چین زیاته پیاوړې ده او له چین سره له پوځي ښکېلتیا وېره نه لري؛ نو د تایوان په موضوع کې د امریکا پارونکو کړنو ته باید د یوې روښانه او ډېرې جدي امریکایي تګلارې په سترګه وکتل شي، چې غواړي د اقتصادي ډګر پرځای په پوځي ډګر کې له چین سره ښکېله شي. په داسې حال کې چې امریکا په بشپړه توګه له پوځي اړخه له چین څخه پیاوړې ده. دا چې روسیه په اوکراین کې ښکېله ده، ښایي له چین سره د تایوان د جګړې د پیښېدو په صورت کې پوځي مرسته ونه شي کړی. په دې جګړه کې به د اټومي وسلو کارول لرې خبره وي.

۲- که امریکا په دې کې بریالۍ شي چې چین د تایوان په مسله کې راښکېل کړي؛ نو له خپلو متحدینو سره به پر چین اقتصادي بندیزونه ولګوي؛ لکه پر روسیه یې چې ولګول. له دې سره به د چین اقتصادي زبرځواکي له ستر ګواښ سره مخ شي او د چین په مهارولو به د امریکا هیله پوره شي. پر تایوان د برید په صورت کې پر چین دغه احتمالي بندیزونه د امریکا د ډېر نفوذ لامل کېږي او په چین کې به شتمن پوړ ته - چې د کمونېست واکمن ګوند جګـپوړي غړي دي- ډېر دردوونکي تمام شي. که د یادو متنفذینو ګټې په پراخه کچه زیانمنې شي، نو د چین کمونېست ګوند دننه به د امریکا لپاره د پنځمې ستنې په توګه کار پیل کړي!

۳- دغو ټولو خبرو ته په کتو، بیخي روښانه ده چې امریکا غواړي وضعیت ترینګلی شي او خبره لویه کړي. دا هم روښانه ده چې اکراین ته د امریکا پام له چین سره د ترینګلتیا په کمولو کې مرسته نه ده کړې. د دې خبرې د لا روښانه کولو لپاره، امریکا له پولنډ څخه وغوښتل چې اوکراین ته د شوروي لخوا جوړې شوې میګ (MiG) جیټ الوتکي چمتو کړي، پولنډ د دې په بدل کې له امریکا څخه د ایف-۱۶ امریکایي جیټ الوتکې وغوښتې. امریکا یې په ځواب کې وویل چې امریکایي کمپنۍ د تایوان لپاره د جنګي الوتکو په چمتو کولو بوختې دي؛ یعني د اوکراین جګړې له چین څخه د امریکا پام نه دی اړولی. دا و د تایوان د کړکېچ اوسنی وضعیت او انګېزه یې.

۴- که دغه کړکېچ د جګړې یا اوربند لور ته ولاړ شي، ډېر احتمال شته چې چین د خپل کور په خوله کې په کړکېچ کې ښکېل کړي، چې په دې سره چین له روسیې سره د اوکراین په جګړه کې مرسته نه شي کولی. د دې په پایله کې، امریکا د روسیې لپاره په اوکراین او د چین لپاره په تایوان کې کړکېچ رامنځ ته کوي او ګټه به یې د دواړو لورو په کمزوري کولو سره امریکا ته رسېږي. که روسیه او چین پوه نه شي چې امریکا په اوکراین او تایوان کې کړکېچونو ته په لمن وهلو سره د دوی پر وړاندې څومره خطرناکه لوبه پیل کړې ده؛ موږ وایو د جګړې د پیښېدو ډېر احتمال شته، یا لږ تر لږه ممکن اخ وډب وشي، ځکه د پوځونو له بسیج کولو تر پاروونکو اقداماتو پورې، په دې قضیه کې هر ډول غلطه محاسبه د جګړې احتمال رامنځته کوي.

**اتم:** د پایلې په توګه ، زبرځواکو هېوادونو نننۍ نړۍ اغېزمنه کړې؛ عدالت او نېکۍ ته هیڅ ارزښت نه ورکوي او سر تر پایه په بې عدالتۍ او شرارت کې ډوب دي. د یادو هیوادونو ګټې که د ځمکې په فاسدولو او د خلکو په له منځه وړلو سره ترلاسه کېږي، له شک پرته چې دا کار کوي؛ که یې ګټې د وینې په تویولو، فساد خپرولو او ګمراهۍ دودلو سره ترلاسه کېږي، دا کار هم هرو مرو کوي. که تېر تاریخ ته پام وکړو، فارس او روم «لوی دولتونه» وو، خو مومنانو فتحه کړل. نن به هم مومنان دغه دولتونه له منځه یوسي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج راشده خلافت به بیا تاسیس کړي، الله سبحانه وتعالی نړۍ ته د ښېګڼې ورکولو اراده لري.

**[... وَيَقُولُونَ مَتَى هُوَ قُلْ عَسَى أَنْ يَكُونَ قَرِيباً] [الإسراء:٥١]**

ژباړه: «... دوی وايي دا به کله وي؟ ته ووایه، شاید چې نیږدې وي»

٢٥ محرم ١۴۴۴ هـ.ق

٢٣ اګست ٢٠٢٢ م